مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۵/۱۲/۲۹

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۲۸مه‌برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۵۷مه برخه

داخل په ټولنیزه مېډیا کې یوه بلډول ځانګړې ویډیو سره مخشوم، په ویډیو کې یوه پيغله یا مېرمن په غملړي غږ سره د یوې نرمې نغمې په ملتیا خواشینونکې لنډۍ زمزمه کوي، داسې چې ډېرى لنډۍ د نجونو په حق کې د ټولنزو نابرابريو داستان بیانوي او د پښتني ژوند د نرواکي ټولنې د ظلمونو داستانونه په کې انځور شوي دي. په ویډیو کې له پيل نه ترپایه پورې یوعکس دی:




د عکس پر ښنده باندې «محدثه سندره» لیکلي دي، خو د عکس په بله ښنده کې د «سپوږمی» فیسبوک‌پاڼې نوم هم لیکلی دی. زه پوه نه‌شوم چې غږ چې لنډۍ زمزمه کوي د چا دی. ما له ویډیو نه څو لنډۍ راخوندي کړې، دا یې لینک:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

https://www.facebook.com/reel/821138467426227

او تر لینک لاندې څو منتخبې لنډۍ دي:

**د دلهګانو په اختیاریم**
**کیسې یې اورم، سترګې ښکته ګرځومه**

**که په حجرو مې لالی مړسو**
**زه به ښېرې د کلي وړکو ته کومه**

**ترلیوني لالي ځاربېږه**
**تا د تربور خبرې څه لیدلې‌دینه**

**د مینې‌زور، د بادشاه زور دی**
**یاغي‌سرونه غلامۍ ته اړکوینه**

**دروازې پورې کړي، پناه‌شي**
**د مسلمان له دره تشه‌ځولې وړمه**

**دېواله ټینګه‌تکیه راکړه**
**زه د بې ننګو له تکیې لوېدلې یمه**

**ځوک به له خپله بخته جاروي**
**زه مې له خپله بخته لاړې توکومه**

**د ژوندانه رسۍ مې ډېرې**
**ځوک مې له غاړې کشوي، ځوک مې رېبینه**

دا لنډۍ مې هم له داسې یوې ویډیو نه راخپلې کړې چې لکه د تېرې ویډیو په څېر یوه ښځینه په غمجن غږ سره، غملړلې لنډۍ د یوه نرم موزیک په ملتیا زمزمه کوي، ویډیو یوه‌دقیقه او دېرش‌ثانیې ده او عکس پر ښنده باندې «محدثه سندره» لیکلې دي، دا لاندې یې لینک او راخوښې‌کړې لنډۍ دي:

https://www.facebook.com/reel/1180203280911806

**پرمخ مې خړې‌خاورې تلې**
**نه یې مینځمه دلالي د فبردینه**

**یو دې د خپله نصیب کمی و**
**بله دې زه په نصیب کمه وختمه**

**اوس مې د زړه رضاګۍ نه سته**
**لالی دې لارې بدلوي، چې کوم‌خواځینه**

**د یار سه دواړه برخې خوارې**
**دلته بې‌یاره، هلته دواړه دوزخونه**

**خدایه د غېږې یار یې مړکړې**
**چې په پردی یارۍ کې تېرې ټکوینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**د زړګي زور مې پاتې نه‌دی**
**یاره کیسې دې لنډوه، سترې دې کړمه**

**نه سته د زړه مجال مې نه‌سته**
**چې په جانان پسې په زوره وژاړمه**

**وړکیه د زړه تکیه دې وسه**
**زما تکیه په بل سړي وسوه‌مینه**

**ما ته مې خپل لالی راپرېږدئ**
**نور مې په مړي ژوندي وشړئ مینه**

دا هم د دې برخې له‌پاره یوڅو نورې لندۍ:

**ستا یارانه د چتو ښکار دی**
**څوک چې د چتو ښکار کوي تش به راځینه**

**تر ما بل لوی کم‌عقل نه‌شته**
**دوه پرې مین وو درېیم زه پرې مین شوومه**

**د مینې یار مې پهٔ کار نهٔشو**
**لهٔ بېګانه خلکو بهٔ څهٔ ګیله کومه**

**ما درته‌وې بیا به مې پرېږدې**
**تا راته وې پښتنې مور راوړی یمه**

**څه له پیدا شوم څه له لوی شوم**
**څه له مین شوم څه له اوښکې تویومه**

**ورور مې په بدو چا ته ورکړم**
**ترسپیوو بدژوند تېروم، مجبوره‌یمه**

**د مور له مینې صدقه‌شم**
**تبه زما وي، خوله د دې ړتلې وینه**

**ښه ده چې ستا له یاری خلاص‌شوم**
**ایله وزګارشومه، ژوندون به مې کومه**

**چې مازدیګر شي، غاړه راکړي**
**دا پاتې ورځ مې په انګار کې سوځوینه**

**چې لمر پناه‌شي، زړه مې لوېږي**
**څوک مې یادېږي، لیونۍ‌چارې کومه**

**زه دې په بوی باندې پوهېږم**
**له شامې پټ پرسترګو مه‌نیسه لاسونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مازدیگر مه‌گوره، ما گوره**
**مازدیگر تل وي، زه به کله ـ کله یمه**

**زما پرې هسې نوم بدنام دی**
**د مازدیگر دیدن یې نورخلک کوینه**

**زه یې په مینه تومتي یم**
**لالی د بل په تمه شپې سبا کوینه**

**یار یې چاودنه کې سرکېښنود**
**جینۍ د کلي لار ځاري چې رابه شینه**

**په تابه کوم بنډار اباد وي**
**ما ته د زړه له درده نه‌راځي خوبونه**

**سترګه لوېده، کډه دې لاړه**
**چې سترګه لوېږي، سترګې دواړه پټې کړمه**

**په لمر لویده کې دعا وکړه**
**نن ماسخوتن مې ورکوي چې پاتې شمه**

**که به مې یو ساعت هېرېږې**
**د ځمکې سر دې راته سره سکروټه شینه**

**ملامت نه‌یې، چې رانه‌غلې**
**مـا ته مالوم دي د پښتو بدریواجونه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ